# ځنګه کولی شو چې له دین څخه د سیاست جلاوالي فکر اصلاح کړو

پوهنمل محمدساقي عادل، شیخ زاید پوهنتون، حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.

**برېښنالیک: mohammadsaqi1@gmail.com**

**لنډیز**

له دین څخه د سیاست جلا کېدو مسله **له** ډېر پخوا مطرح کېږي، چې دغه مفکوره د سیکولریزم په نوم یادېږي. ستونزه دا ده چې سیکولرېستان ادعا کوي چې دین وروسته پاتې، کلک، ثابت، غیر معقول، د پرمختګ او عصري کېدو مخالف، د فردي او ټولنیزو آزادیو محدودول، په دیني چارو تمرکز کول او داسې نور دی. آیا د سیکولرېستانو دا ادعا حقیقت لري؟ په دې څېړنه او لیکنه کې لیکوال هڅه کړې چې نوموړې ادعا د معقولو دلایلو پر اساس چیلنج کړي او له دې کوچنۍ لیکنې اصل موخه دا ده چې لوستونکو ته وښیو، چې سیاست له دین څخه جلا نه بلکې د دین یوه برخه ده، په ځانګړي توګه د اسلام دین یوه نه جلا کېدونکې برخه ده، په دې اړه څېړنې شوې، اما په دې څېړنه کې هغه خالیګا ډکه شوې ده، چې تر دې دمه پرې بحث او لیکنه نه ده شوې. دې هدف ته د رسېدو لپاره مو په ټوله کې کتابتوني مېتود کارولی، کمي، کیفي یا په ټوله کې مختلط معلومات له ملي او نړیوالو معتبرو کتابونو راټول کړي چې د تجزیې او تحلیل پروسیس وروسته په مناسبو عنوانونو او مبحثونو کې ترتیب شوي. دې لیکنې اهمیت دا دی چې دا یو پالیسي سازه څېړنه ده، څو مسلمان واکمنان او اسلامي پوهان د خپلو پالیسیو په جوړولو کې ترې ګټه پورته کړي او دغه تاریخي ستونزې ته د پای ټکی کېښودل شي.

**کلیدي کلمې**: اصلاح، جلاوالی، دین، سیاست، سیکولریزم، لاملونه.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدالله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین.**

زیاتره اسلامي ټولنې د اسلامي کلتور، تعلیم، سیاست او دیني حکومتونو پیروي کوي، چې همېشه د غیر اسلامي ټولنو له خوا د تاوتریخوالي او انحرافاتو تر برید لاندې راغلي، په منظم ډول فکري او ایډیالوژیک بریدونه ورباندې ترسره شوي، متعصبې کړۍ او هېوادونه هڅه کوي چې په لوی تمویل او لګښت سره خپل پلانونه او هیلې په بنسټیز ډول عملي کړي. له دین څخه د سیاست جلاوالي فکري (سیکولریزم) غورځنګ د نورو استعماري خوځښتونو او فکري جګړې په څېر اسلامي خاورې ته ننوتی، چې ډېری مسلمان اولادونه یې اغېزمن کړي، زیاتره اسلامي او غیر اسلامي لیکوالانو او پوهانو د دغه

غورځنګ اړخونه او موخې څېړلي دي، چې حقیقت یې مسلمان ملت ته په مختلفو اثارو کې برابر کړي، اما داسې لیکنې نه تر سترګو کېږي چې په هغه کې د حل لارې، مخنیوی او داسې پالیسۍ په ګوته شوې وي چې اسلامي نظامونه یې په پام کې ونیسي، ترڅو دغه غورځنګ کړنو ته ځواب ووایي. په دې لیکنه کې به د دغو اثارو او څېړنو یوه برخه، چې دې غورځنګ مفهوم، ماهیت، تاریخي سیر او حقیقت جوړوي وڅېړو او بله برخه د دې لیکنې دا ده چې څنګه کولی شو د دغه غورځنګ د نفوذ مخنیوی وکړو؟ هیله ده چې له یوې خوا دا لیکنه د ځوانانو او لوستي طبقې په منځ کې د سالمې فکري فضا په رامنځته کولو کې ګټوره تمامه شي او له بلې خوا اسلامي ټولنې او نظامونو ته د دغه حرکت او د هغې د موخو او پایلو په اړه سم پوهاوی وړاندې کړي ترڅو دغه غورځنګ کړنو او نفوذ مخنیوي لپاره ګټورې پالیسۍ په کار واچوي.

د سیکولرېستانو لخوا له سیاست څخه د دین جلا کولو ادعا او هغه جګړې او جنجالونه چې په دیني ټولنو کې رامینځته شوي، د دوامداره داخلي جګړو، تاوتریخوالي او بې شمېره بدو پایلو لامل شوي او لامل کېږي. ستونزه دا ده چې له ډېر پخوا څخه تر نن پورې د دین او سیاست ترمنځ دا ستونزه حل نه شوه او لا هم جریان لري، نو لازمه ده چې لومړی د هر حرکت مفهوم وڅېړل شي، په هغه کې کارول شوي اصطلاحات او تشریحات وارزول شي. دویم د هغه اهداف او غوښتنې سم او ژور درک شي، ترڅو څېړونکي ته دا وړتیا ورکړي چې د هغه حرکت په اړه قضاوت او پرېکړه وکړي او داسې حل لارې یا پالېسیو ته زمینه برابره کړي چې اسلامي نظام وکولی شي د وړاندیز شویو حل لارو یا پالیسو په پام کې نیولو سره پېښې شوي ستونزې ته د پای ټکي کېښږدي. موږ هم په دې څېړنه کې لومړی له دین څخه د سیاست جلاوالی «سیکولاریزم» «علمانیت» مفهوم، لغوي او اصطلاحي پېژندنه، تاریخي سیر او بیا مو د دا ډول فکرونو د اصلاح لپاره ځینې د حل لارې او پالیسیو پیشبیني کړې ده، چې دې هدف ته د رسېدو لپاره له کتابتوني، اکتشافي، توضیحي، انتقادي او نورو مېتودونو څخه ګټه پورته شوې ده.

## د څېړنې موخې

۱- د دغه څېړنې اصلي موخه دا ده، چې روښانه کړي، چې ستونزه په دین کې نه بلکې د سیکولرېستانو په تحلیل او اراده کې ده.

۲-لوستونکو او په ټوله کې اسلامي او غیر اسلامي ټولنو ته د اسلام دین سیاسي انځور په سم ډول وړاندې کول.

۳- د اسلامي حکومتونو مسؤلینو ته د ځینو کړنو په ګوته کول ترڅو له داسې کړنو مخنیوی وکړي چې له امله یې دین ته زیان اړول کېږي او خلک سیکولرېزم ته مجبورېږي.

د څېړنې مېتود: د ټولنیزو علومو په برخه کې څېړنه تر ډېره کتابتوني، ساحوي او د اوسني تکنالوژۍ څخه ګټه اخیستل دي؛ نو ما هم د دې مقالې په لیکنه کې کمي، کیفي یا په ټوله مختلط معلومات له ملي او نړیوالو معتبرو کتابونو څخه راټول کړي چې د تجزیې او تحلیل پروسیس څخه وروسته مې په مناسبو عنوانونو کې ترتیب کړي. په دې هیله، چې د قدرمنو لوستونکو تنده به تر یوه بریده ورباندې ماته شي.

**لومړی مبحث: له دین څخه د جلاوالي فکر (سیکولریزم) لغوي او اصطلاحي تعریف**

په دې اړه زیات شمېر تعریفونه شوي، چې ځینو علماوو او پوهانو د (Secularism) اصطلاح د (دین او سیاست جلاوالی) په معنی کارولی او ځینو بیا د (Etheism) (الحاد) په معنی کارولی او دغه تعریفونه په ټوله کې مشابه او ورته والی لري چې موږ دلته له ددواړو ډلو څو تعریفات رانقل کړي:

مصری مفکر ډاکټر یوسف قرضاوي او ملګري یې: د «سیکولاریزم» کلمه که په زور وي او یا په زېر، یوه اروپایي کلمه ده او په کار وه چې په "بې دینی، الحاد او لادینیت" ژباړل شوې وای؛ ځکه چې د کلمې اروپایي اصل د "هغه څه چې دین نه وي" معنی لري او یقیناً هغه څه چې دین نه وي هغه په بې دینۍ پورې اړه لري او په مقابل کې یې د "علمانیت" (علم پالنه) کلمه غوره کول د مسلمانانو احساساتو لپاره فریب دی.

سیکولریزم یا سیاست له دین جلا کول هغه باور دی چې، دیني بنسټونه باید په دولتي یا سیاسي چارو کې مداخله ونه کړي یا که په لنډ ډول ووایو دین او سیاست باید یو تربله مداخله ونه کړي، دین باید خپلې چارې تنظیم کړي او سیاست باید خپلې چارې تنظیم کړي (نیازی، ۲۰۱۱م، ص ۱۷).

**دویم مبحث، د سیکولریزم تاریخي سیر**: سیکولریزم د تاریخ په اوږدو کې د انسان له پیله تر نه پورې شتون لري او په مختلفو تعبیرونو او ادعاوو سره منځ ته راغلی. سیکولریزم د لومړي ځل لپاره په منځنیو پېړیو کې څرګند شو، چې اصل لامل یې د کلیسا منفي فعالیتونه وو. د دې غورځنګ د ودې زیات شمېر لاملونه او پړاوونه تېر کړي چې په جلا جلا عنوانونو کې یې د مطالعې لاندې نیسو:

لومړی مطلب: د سیکولاریزم د نشأت او ودې دوره؛ د لومړي ځل لپاره د سیکولریزم کلمه، د «جورج هالي اوک» برتانوي لیکوال لخوا په ۱۸۴۶م کال کې وکارول شوه چې اصلي بنسټ او رېښه یې په منځنیو پېړیو کې وه (نیازی، ۲۰۱۱م، ص ۲۲).

دویم مطلب، د معتدل او آرام سیکولریزم دوره؛ دا دوره په ۱۷ او ۱۸ پېړیو کې رامنځ ته شوه، په دې دوره کې دین یوازې کلیسا ته ځانګړی شو چې د حکومت په چارو کې لاسوهنه ونه کړي. دین او عبادت یوه فردي مسئله وګڼل شوه، چې ساینس له دین څخه په ټولو برخو کې جلا شو، فکر دا و چې دیني

زده کړه فکر کنګل کوي او د انسان عقل او حواس خرابوي، دیني مضامین ټول لغوه شول، همدا ډول د ادب، اقتصاد او رسنیو په ډګر کې هم وشول، د کلیسا منجمد فکر یې وغندلو، ټولې چارې د سیکلوریزم په معیار تحلیل او ارزول کېدې.

**درېیم مطلب، د سیکولریزم افراطي مرحله:** دا مرحله د ۱۸ پیړۍ په پای او د ۱۹ پیړۍ په پیل کې رامنځته شوه چې د "هیګل" او "کارل مارکس" په نظریاتو کې موندل کېدی شي. فریدریش هیګل د تضاد په قانون باور درلود او د انسان د پرمختګ لپاره یې اړین ګڼلو. هېګل ماده د انسان د فکر پایله ګڼي، اما کارل مارکس بیا د کائناتو او هر څه اساس ګڼي او دین د ملتونو تخریب او د پرمختګ خنډ یې بولي. مارکس وایي چې اقتصادي اړیکې د ټولنیز او فکري ژوند لاره ټاکي او اړینه ده چې د بشري تاریخ په مادي اساس تفسیر شي او ټولې تاریخي جګړې، سیاسي، فکري او مذهبي خوځښتونه د مادي شیانو پر بنسټ ولاړ دي (نیازی، ۲۰۱۱م، ص ۲۲).

**درېیم مبحث، د سیکولریزم د لېږد او پیدایښت لاملونه**

**لومړی مطلب، په غربي ټولنه کې د لېږد او پیدایښت لاملونه:** کله چې په منځنیو پېړیو کې مسیحیت تحریف شو، نو د سیکولریزم یا د دین څخه د سیاست جلا کېدو مفکورې ته زمینه برابره شوه. دیني مراکزو دیني رسالت هېر کړ، مذهب خپل اصلي خوی او ځانګړتیاوې له لاسه ورکړې، کلیسا د دین په نوم ځان مطلق اله ظاهر کړ او د ظالمانه قوانینو په وضع کولو سره یې ورځ په ورځ د ژوند چاري ننګولې، لومړی ګام یې دا و چې د تثلیث عقیده یې فرض کړه، هغه چا به چې نه منله د تیغ نه به یې تېرولو، هر څه به یې چې د طبیعت خلاف وو حرام اعلانول، هېچا د اعتراض حق نه درلود، که چا به یې پر ضد خبره وکړه د بې دینۍ او تکفیر مُهر به پرې وهل کېدو، له تکفیر شویو اشخاصو سره هر ډول مراوده (تګ راتګ) بند و. تکفیر ځانګړي تشریفات درلودل، لکه د لعنت‌پاڼه، د متوفی وصیت پاڼه، د خاوند او ښځې واده، پاچاهانو ته د هر ډول جنایت او ظلم جواز ورکول.

ټولنه مادي حریصه او فاسده شوه، روحانیت د تعادل په نوم افراطي شو، علوم یې د دین په نوم خفه کړل، یوازې دیني علوم یې علوم وبلل، د نورو علومو دروازې یې وتړلې، بې ګټې او حصول یې د وخت ضایع او د اخرت تاوان وبللو، علماء یې فرار، مړه او ژوندي ځوړند کړل. د دین په نوم یې حکومت کاوه او مخالفین یې د دین په توره وهل، هر چا به دیني تظاهر کاوه. د دین په نوم سالم تحرک منجمد شو، علماء او روحانیون مفتخوره شول، نالایقه، عیاش او فحاش اولادونه په لویو منصبونو وګمارل شول، چور او تالان شروع شو. مدنیت په وحشت، پیشرفت په پسرفت بدل شو. نه یوازې دا دنیا یې توره تیاره کړې وه، بلکې هغه دنیا یې هم پر خلکو خرڅوله. د جنت او دوزخ کیلي له پاپانو سره وه. سړی به چې مړ شو؛

زوی به یې له پاپ یا کاردینال څخه مړ پلار ته په جنت کې کور اخېسته، که به وارث پیسې نه درلودې نو یوه خالي نمره ځمکه به یې اخېستله او بیا به یې په قسط ابادوله، مړی به تر هغه ځنډېدلی و چې وارث به پاپ ته ټولې پیسې ور کړې نه وې (نیازی، ۲۰۱۱م، ص ۱۷- ۷۰).
جنتي ځمکې په موقعیت پورې اړه درلوده؛ د حضرت عیسی علیه السلام قصر او یا کوم سینټ بنګلې ته نژدې ځمکه ګرانه وه. دا د مړي وارث په پیسو، زور، عذر او واسطه پورې اړه درلوده چې څنګه کور یا ځمکه واخلي. دا وخت د استعدادونو رشد، ابتکار، کشفیاتو او د علومو شوق زوالانه شوی و؛ ټوله اروپا په سخت جهالت کې راګیره وه، مسلمانانو اروپا ته په هغه وخت کې ساعت یووړ، هغوی د ساعت له زنګه ویرېدل او د خاص مجلس په وخت کې به یې لیرې ایښودو چې مسلمانانو پیریان پکښې کښېنولي دي او زموږ حال اخلي. د کور دروازې ترشا هم چا د ښځې څخه پوښتنه نشوای کوله، ځکه چې د دوی په اند ښځه نجسه او د شیطان له ذات څخه وه چې نکاح او نزدیکت ورسره ښه سړي نه کاوه. همدا وجه وه چې روحانیونو واده نه کاوه او ویل به یې چې که ښځه ښه وای عیسی علیه السلام به کړي وای. د ښځې سره په کار کې مشوره عیب او خطا کار و. کوچني زوی به د مور او خور سره پر یوه کاسه ډوډۍ نه خوړله چې رعب او ستاره یې کمه نشي، دا ځکه چې ښځه بې عزته او بې غیرته شی و؛ هسې نه چې دا ماشوم بیا بې غیرته لوی نشي، ان که ښځه به د نارینه پر جامو ولګیده هغه به مرداره وې، پرې کوله به یې، ښځه په بازار کې د خرې او غوا سره سودا کېده، یوه سړي به چې زړه یا بدرنګه ښځه په ځوانه یا ښایسته بدلوله، نو د ځوانې ښځې سړي ته به یې په تفاوت کې غوا، خره یا څو منه جوار سر ورکاوه. حکومت د اشرافو، خانانو او پاپانو په لاس کې و، عام خلک یې په مختلفو نومونو زبېښل، چې دغه حالت اروپا په ذلت او خوارۍ کې واقع کړه او مسلمانان تر اطریش ورسېدل او نژدې وو چې ټوله اروپا تر تسلط لاندې راولي. په دغه وخت (۱۵-۱۸ پېړۍ) په اروپا کې یو شمېر مفکرین پیدا شول چې د وضعې بدلون غوښتونکي شول، خو دا کار تر هغه نه کېده چې د علم تعریف بدل او پاپان په کلیسا پورې محدود نه کړل شي. پاپانو چې د اخرت په نوم خندا حرامه کړې وه، دوی خلکو ته وویل چې وخاندئ، وګډېږئ او له دغه څو ورځو خوند واخلئ، د غیبي خبرو او فلسفي تفکر پرځای مادي ژوند ته توجه په کار ده، یو څو ورځې ژوند دی او پاپان یې د خپل عیش لپاره د اخرت په نوم راباندې خرابوي، څه چې دي همدا دنیا ده، باید ګټه او لذت ترې واخلئ. دا ډول مفکرین او غیرمذهبي علماء ورځ په ورځ ډېرېدل. روحانیونو د دغه نوې طبقې پر خلاف سخت عکس العمل وښود، ډېر یې بندیان، مړه او ژوندي پوست کړل، خو دغه نوي ډلې، خپل فکري انکشاف، تبلیغ او مبارزې ته ادامه ورکړه، خلکو ته یې د پاپانو اصلي څېرې رسوا کړه.

دغه نوې طبقې ته روشنفکران وويل شول، چې د خپلو خلکو هوساينې لپاره يې فکر کاوه او د سر په بيه يې د نجات او پرمختگ مبارزه کوله. يعنې هم يې ځان او هم يې ټولنه له تاريکه ايستله، هم مفکر وو او هم خدمتگار، په دغه لار کې زرگونه روشنفکران مړه شول چې په نتيجه کې د پروتستانت مذهب راپيدا شو او مسلحانه مبارزه يې وکړه، په لکهاوو پروتستانتان مړه شول، اما پاېان او روحانيون يې له قدرته وغورځول او د کليسا دروازې يې ورپسې وتړلې، هرچا ته د مدرسو دروازې خلاصې شوې، حکومت د عوامو په اختيار کې شو، ټوله توجه توليد او مصرف ته وه. په سرعت سره د بې دينۍ او ماده گرۍ فرهنگ خپور او مسلط شو، هر چا په بې دينۍ فخر کاوه، مادي ترقي وشوه، پخوانی برم يې اعاده شو. دغه وخت مسلمانان، د غرب برعکس، متمدن وو. کله چې اروپا د اشرافيت او مذهب تر تسلط لاندې د تاريخ توره دوره تېروله، په اسلامي قلمرو کې علم و، تمدن و او پرمختگ و. مسلمانانو د ابونصر فارابي، ابن رشد، ابن عربی، امام غزالي، البيروني، ابن سينا، ابن خلدون، بهزاد، خوشحال خان خټک، سنائي، مولوی... علماء او مفکرين درلودل. د اسلامي تعليم له برکته دغو مفکرينو رشد وکړ، مسلمانانو د دغو علماوو د تلاش په نتيجه کې ترقي وکړه، د بشري تاريخ زرين باب يې جوړ کړ چې د غرب اوسني پرمختگ بنياد يې تشکيل کړ، اما اسلامي نړۍ هېڅ استفاده ترې ونه کړه. اسلام د علومو حصول او په کائناتو کې تفکر، تلاش او د هغه تسخير د هر مسلمان وجيبه وگڼله. د انسان شرافت يې په علم و ادب کې کتلو نه په مال او نسب کې. دلته ملا او روحانيون تر هر چا ډېر د اخرت له حسابه وېرېدل، مادي ژوند يې د ټولنې تر متوسطې طبقې کښته و.

د پورته لاملونو علاوه نور گڼ شمېر لاملونه شتون لري چې له سياست څخه د دين جلا کولو مفکورې ته يې لاره برابره کړه، دا چې د مقالې متن زيات اوږد نشي يوازې د ځينو مهمو لاملونه نومونه ذکر کوو او که مناسبه وبلل شوه په راتلونکي کې به د يو کتاب په بڼه په تفصيل سره بحث پرې وشي:

**۱- د عيسويت او انجيل تحريف**

**۲- د کليسا بغاوتونه:** لکه مذهبي بغاوت، سياسي بغاوت، مالي او مادي سرغړونې، اوقاف، عشر، صدقه، خيرات، گمارنې، د لومړی کال ماليه، د علم او پوهې سره د کليسا جگړه، اوولسمه پېړۍ او له کليسا سره د علمي نظرياتو د مخالفت پيل، د نيوټن د جاذبې او انقلاب نظريه، اتلسمه پېړۍ، د فرانسې انقلاب او لاملونه يې، پټ شيطاني ځواکونه، سيکولرېزم، نيکولا ماکياولي او د حکومتولۍ اصول (ايوبي، ۱۳۹۲، ص. ۲۳).

**څلورم مبحث: په اسلامي نړۍ کې د سيکولرېزم د خپرېدو ځينې مهم لاملونه:** کله چې غربي ټولنو ته دين بې معنی ښکاره شو، نو د دوی هڅه دا وه چې نورې ټولنې هم له دين خلاصې کړي او دين له

سیاست جلا کړي. مسلمانان هغه وخت خوار شول چې حکومت په اسلام کې د ولس مال و شخصي شو، حاکمانو علماوو ته په سپکه وکتل، ددیني او عصري علومو حصول چې ښه رونق یې موندلی و محدود کړل، د دین په نوم بې دیني پیل شوه، د بیان ازادي چې د اسلامي تمدن یو اصل دی محدود شو، اجتهاد او تفکر منجمد شو، حاکمان ظالمان او د دولت چارې نالایقه، عیاش او فحاش اولادونو ځیو ته حواله شوې، په اسلامي قلمرو کې عیاشي او فحاشي خپره او اسلامي مدنیت په وحشت بدل شو، حاکمانو د یوروپ پاپانو او اشرافو ځانګړتیاوې خپلې کړې؛ د استعدادونو رشد او ابتکار مخ یې ونیوله، د مثبت تغییر او پرمختګ لار چې د اسلامي نظام روح وه بنده کړه. هغه اسلام چې خلک یې د ارتجاع او منفي عنعناتو د تعقیب څخه منع کول پریښول، دا وخت د خرافاتو، مضرو رواجونو او عقبګرائي ښکار شو. ښځو چې په اسلام کې یې د نر په شان تجارت، کسب وکار، د علومو د حصول موقع او د بیان ازادي درلوده د اروپا د پاپانو د وخت د پېر او پلور متاع شوې. هغه ښځه چې پیغمبر (ص) وایي چې د نارینه ورور دی، دا وخت مینځه شوه. که پاپانو ښځو ته نجس جنس وایه، اوس هم ډېری خلک په عام محضر کې د ښځې په نوم اخېستو شرمېږو او /حیاء دی وي/ ورسره وایي. که پاپانو ښځه د شیطان له ذاته ګڼله نو موږ ته هم دا تعریف په زړه کې خوند راکوي. که زموږ پاک رسول په مهمو کارونو کې د ښځو سره مشوره کوله او بیعت یې ځینې غوښت، اوس هم ډېری خلک د پاپانو په پیروۍ له ښځو سره مشوره عیب ګڼي. په اروپا کې روشنفکران د خپلې ټولنې د شرائطو پایله او ردالعمل و خو زموږ روشنفکران د ټولنې د عمیق درک په نتیجه کې نه دي رامنځته شوي بلکې کوم هېواد ته تللي، هلته یې تعلیم کړی، د هغو فکر یې اخیستی او خپل وطن ته یې د متاع په شان وارد کړی بې له دې چې فکر وکړي چې دا متاع د ده په وطن کې اخېستونکي لري او که نه؟ دوی په نوره نړۍ کې پرمختګ ولید او فکر یې کاوه چې خپل وطن یې هم په دې توګه هوسا شي، خو نه و پوهه چې د ده د ټولنې شرائط دغه وارداتي متاع ته برابر دي او که نه؟ ایا دغه نوي تخم ته چې ده راوړی دی او په نوره نړۍ کې یې ښه نتیجه ورکړې، دده په وطن کې ځمکه، اب و هوا ورته اماده ده او که نه؟ ایا زموږ شرائط همداسې دي لکه د هغوی. زموږ ډېری لوستو کې دا توان نشته چې هغه څه چې په نورو هېوادونو کې یې زده کړي دي د خپلې ټولنې د شرائطو سره منطبق او پخپل وطني چوکاټ کې یې واچوي؛ دا ځکه دا کار د خپلې ټولنې د سمونې او جوړونې پوهه غواړي چې دوی یې نه لري. یعنې دوی باید دواړه پوهې لرلي وای، چې دې سخت کار ته دوی ځان نشي ټینګولی. واقعاً، زور هم غواړي. موږ داسې ملي حکومتونه هم نه دي درلودلي چې دا دواړه پوهې سره همغږې کړو. اسانه کار کاپي، تقلید او واردول دي چې ډېر دقت او د مغز سترړیا نه غواړي.

زموږ روشنفکران، برخلاف د نورې نړۍ روشنفکرانو، نورې نړۍ ته په تلو سره له خپلې ټولنې، تاريخ او فرهنګه ليرې او بيګانه شول. د دوی اکثر چې په واسطه يې د خارج بورسونه اخيستي، د پرمختللي نړۍ روشنفکرانو تقليد او پيښې کولې؛ په داسې حال کې چې د هغوی په شان نه وو. د پرمختللي نړۍ ښکلي ښارونه، دنګې ماڼۍ او د خلکو ارام ژوند يې ليدلی و، په موټر، الوتکې او اورګاډي کې سپاره شوي وو او د پرمختللي نړۍ د تمدن زرق و برق يې سترګې وړې وې خو د هغوی په شان خپلې ټولنې ته ګټور نه وو؛ هغوی په زيار او د سر په قربانۍ ګټلي وه او دوی اسانه په عيش وعشرت پيدا کړې وه. دوی نه يوازې خپلې ټولنې ته ګټور ثابت نه شول بلکې برعکس مضر واقع شول او د واقعي روشنفکره طبقې د راپيدا کېدو په مخ کې هم خنډ شول چې کيدای شوای عصري تمدن يې د خپلې خاورې پر تاريخي، فرهنګي او ټولنيزو پايو بناء کړی وای. دا ځکه زموږ دين او فرهنګ د اروپا د پاپانو د وخت په شان د علم، تفکر او پرمختګ دښمن نه دی، خو زموږ زيات شمېر روشنفکران نه پوهېدل او ونه توانيدل چې نوی تمدن د خپلې ټولنې په قالب کې عيار کړي. دريشي اغوستل، شراب خوړل، فحاشي کول او د پلار پر ږيره، خبرو او لباس خندل خو څه تمدن نه دی. دوی د کعبې په نيت ترکستان ته تلل. يو صوفي پر يو وياله اودس کولو چې استنجاء کې يې د پزی د پريولو دعا لوستله، يو ملا ورته پر غوږ شو چې لااليه ښه دعا ده خو ښوروی دې خطا کړي په بريتو کې يې خندل، نو زموږ روشنفکرانو اکثره د استعمار په خدمت کې فهميده يا نافهميده د لارې د کشف د ډلې يا څاروان دنده اجراء کړي. استعمارګر دمخه تر دې چې کوم هېواد ته لاړ شي، د هغه هېواد په باره کې د خپلو مستشرقينو سره مشوره کوي، پلان جوړوي او بيا په همغه هېواد کې د هغو کسانو سره تماس نيسي چې دوی تربيه کړي دي (په اصطلاح روشنفکران) چې څه بايد وشي؟ دغه روشنفکران دوی ته د هېواد د اشغال لنډې لارې ورښائي او خپله هم ددغه پلان د عملي کېدو په لار کې د مخلصانه همکارۍ ټېر وهي. البته استعمارګر خو داسی نه ورته وايي چې زه ستا هېواد نيسم، تا او ستا مور وپلار او اولاد مريان کوم او هستي مو درلوټوم، بلکې ورته وايي چې موږ ستا د قوم لوږه، غريبي، ستومانه ژوند او ظالم حاکمان وينو د انسانيت په حکم دلته نا اراميو. که څه هم موږ و تاسې يو لړ ټولنيز او فرهنګي توپيرونه لرو خو په انسانيت کې سره شريک يو. زموږ ټولو يو مذهب دی او هغه انسانيت دی. دا نور مذهبونه ترک کول په کار دي. انسانيت پوله نه لري او دا ځمکه د ټولو انسانانو مشترک مال دی. وطن هم يو ارتجاعي کلمه ده، جهاني فکر کول په کار دي. هغه څوک چې د خپل وطن د ګټو په فکر کې دي مرتجع او عقب مانده دي. مترقي هغه ده، چې ټول بشريت خير وغواړي او پر انترناسيونالزم يې عقيده وي. کوم اخلاق، عفت، عصمت، ناموس چې دين تاسې ته وايي منحطي پديدې دي. د دنيا له نعمتونو خوند اخيستل په کار دي. که تاسې زموږ هېواد ته ازاد نشې راتلای او په

کلیو کې مو نه شي ګرځېدلی دا یو انترناسیونال امنیتي او ایدیالوجک مصلحت دی او چنداني ضرورت هم نشته، موږ خو سم یو خو ستاسې سرحدونه باید موږ ته خلاص او کلیو ته مو دسترسی وي چې د انسانیت، ورورولۍ، برابرۍ، ازادۍ او ډموکراسۍ پیغام پکښې خپور کړو. موږ ستاسې سره یوازې د نړیوالې ورورولۍ پر بنیاد مرسته کوو. څرنګه چې ددغو ایزمونو یا کراسیو پیدایښت په غربي، اروپایي او شرقي هېوادونو کې شوی دی نو زموږ روښنفکرانو ته ویل کېږي، چې تر هغو څوک نه مترقي کېږي، چې د دغه ایزم اصلي وطن تر خپل وطن محترم او د دغه ایزم د وطن خلک تر خپل ورور او اکا تر زوی ښه ونه بولي او که ضرورت شي خپله وینه به د دغه نړیوالې ورورولۍ د ساتلو او خدمت لپاره ورکوي. موږ چې ستاسې وطن ته راځو په همدغه منظور راځو کوم خلک چې وایې دا زما وطن دی، پردی دې یې نه خوري، ناپوه دی. موږ پردي نه یو. کوم خلک چې موږ پرادي بولي له انسانیته پردي دي، اشرار دي، تروریستان دي او د بشر دښمنان دي. دوی باید محوه شي که څه هم د چا ورور وي. تاسې ګورۍ چې زموږ ورونه او زامن ستاسې په هېواد کې چې زموږ و ستاسې ګټې په کښې شریکې دي، د همدې اشرارو او تروروستانو په خلاف د نړیوالې زمه وارۍ د تحفظ لپاره جنګېږي. که څه هم موږ پر تاسې احسان نه اچوو خو تاسې باید زموږ شکرګذار یاست چې خپل اولاد او د تندي په خولو جوړه شوي پیسه ستاسې په خدمت کې ایږدو (اعظم، ۱۳۹۱، ۱۱- ۲۰).

دغه انحرافات په اسلامي ټولنه کې ددوو بدمرغیو لامل شول: یو «علمي شاتګ یا انحراف» هغه هم په داسې حال کې چې اروپا د وروسته پاتې والي دورې څنډلې وې او د علمي پرمختګونو او کشفیاتو په لور یې ګام پورته کړی وو. دوهم د اسلامي هېوادونو «مادي او معنوي کمزورتیا» چې د کفارو لپاره یې خوندوره او غوړه مړۍ جوړه کړې وه او اروپایانو ټوټه ټوټه له ستونې تېرول.

د اسلامي ټولنې ژور انحراف او د ګمراه کولو په موخه د «شرقي او غربي نړۍ ناوړه پلانونو او پروګرامونو مسلمانان له هراړخیز انحراف سره مخ کړل، د عصري او دیني علومو ټکرونه یې شروع کړل، په عقیده او د الوهیت په مفهوم کې انحراف رامنځ ته شو، د غیر اسلامي حکومتونو، واکمنانو او روحیاتو تر اغیز لاندې راغلل، په فکري او عملي انحرافاتو کې ډوب شول، د صفویانو او عثمانیانو ترمنځ د شیعه او سوني په نوم جنګونه رامنځ ته شول. د مسلمانانو بې شمېره غلط فهمۍ، ناپوهۍ، په ځینو هېوادونو کې د خلافت میراثي توب، د افتراضي فقهو نشتوالی او له نویو حوادثو او فقهي پېښو سره نه همغږي؛ په داسې حال کې چې اسلامي شریعت د ژوند ټول اړخونه په هره زمانه کې تر خپل پوښښ لاندې راولي او تر قیامت پورې به دوام لري، خو له بده مرغه د نویو مسایلو پر مخ د اجتهاد دروازه وتړل شوه او اسلامي فقې ونه شو کړای چې د نویو مسایلو سره همغږې شي. له همدې وجې، سکولرانو ته د نفوذ دراوزه پرانستل شوه. اسلامي حکومتونو او خلافتونو د وسلو او پوځ له اړخه مجهز او منظم پوځ ته اړتیا درلوده او په دې برخه

کې باید د علماوو او دیني خلکو له خوا مهم لوائح او لارښوونې وړاندې شوې وای، اما علماوو له دې مسائلو سره هېڅ تړاو نه درلود، چې په ترڅ کې یې له اروپایانو کومک وغوښت ترڅو یوه ښه نظامي اردو ولري، له جرمني، فرانسې او سویډن څخه استادان راغلل او په اسلامي تاریخ کې د لومړي ځل لپاره، د اسلامي پوځ روزنې مسولیت بهرنیو روزونکو په غاړه واخیست. د دې ترڅنګ، اداري او قضایي تشکیلات هم د لویدیځ تر اغېز لاندې وو. که څه هم دا موارد د مسلمانانو په منځ کې د تنظیماتو په نوم مشهور وو او د شرعي چارو په شان یې ارزښت درلود، خو په تدریج سره د سیکولرېزم د نفوذ سبب شو. همدا ډول نور لاملونه شته چې په اسلامي نړۍ کې یې د سیکولرېزم مفکورې ته زمینه برابره کړه لکه سیکولریزم په تقدیر د ایمان لرلو په مفهوم کې انحراف، د اسلامي نړۍ په مقابل کې د یهودانو او صلیبیانو پلانونه، صلیبي پوځي بریدونه په سوله ییزو بریدونو بدلول، په داسې حال کې چې دا همغه اهداف تعقیبوي خو وسایل یې مختلف دي، د سوله ییزې جګړې په بڼه د غربي مبلغینو لښکر استول، په اسلامي نړۍ کې د غربي سیاست د پلي کولو لپاره د شرقي عیسویانو استخدام، د عرب ختیځ په مرکز کې د غربي اډو جوړول ترڅو سیاسي او مذهبي دعوت اداره کړي (شاکر، ۱۳۸۸، ۲۱-۲۳).

**پنځم مبحث: اسلام او سیکولرېزم**: دا چې سیکولرېزم د اسلام سپېڅلي دین پر وړاندې مطرح کېږي، نو باید د لویدیځې نړۍ په نظر ورته ونه کتل شي؛ ځکه چې قرآن له انجیل سره نه شي پرتله کېدای، اسلام کامل او شامل دین دی، اسلام بشپړه توحیدي عقیده ده، مسلمانان یوازې په یو خدای ایمان لري او محمد صلی الله علیه وسلم د نړۍ لپاره د خدای بنده او رسول ګڼي، اسلام او قرآن د جهالت او ناپوهۍ سره ټکر لري. اسلام د یوې داسې قیمتي ملغلرې حیثیت لري چې په هر طرف خپلې زرینې وړانګې تولیدوي او د علم سهار راولي. خو د وخت نا اهله او د دین څخه بې خبره واکدارانو د دغه ملغلرې وړانګې تتې کړې...اما بیا هم د اسلام دین خپل نورانیت نړیوالو ته ښودلی چې په دې لړ کې د اسلام مبارک دین او سیاست څو مهمو ځانګړتیاوو ته اشاره کوو: (عثماني، ۱۳۹۲، ص ۱۰ – ۴۰).

۱- اسلام یو رباني نظام دی: یعنې د اسلامي نظام مصدر الهي وحې ده، ښکاره وحی (قرآنکریم) او خفي وحي (نبوي سنت او احادیث) دي، چې په دې اړه قرآنکریم فرمایي: (وما ینطق عن الهوی ان هو الا وحی یوحی) ژباړه: حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) له هوا څخه خبرې نه کوي بلکې دا هغه وحي ده چې ده ته کېږي.

۲- اسلامي نظام عقیدوي نظام دی: اسلام یواځې په مادي وسایلو تکیه نه کوي بلکې خلک په خپله خوښه اطاعت ته تیار دي او دا نظام په زړونو حکومت کوي. مثلاً کله چې د شرابو د ممنوع اعلان وشو او د حرمت ایت نازل شو ((فاجتنبوه) (ځان ترې وژغورئ)) نو بیا چا شراب ونه څښل...

۳- اسلام کامل او شامل نظام دی: اسلام د ژوندانه ټولو اړخونو ته رسيده ګي کوي. لکه سياسي، اقتصادي، نظامي، حقوقي، جزايي، مدني، فاميلي، ملي، نړيوال او داسې نور. الله جل جلاله فرمايي: (اَليومَ اَكمَلتُ لَكُم دِينَكُم وَاَتمَمتُ عليكم نعمتي ورضيت لكم الاسلام دينًا) ژباړه: نن ورځ موږ تاسې ته ستاسي دين کامل کړو او خپل نعمتونه مو پر تاسې تمام کړل او د اسلام دين مو تاسې ته خوښ کړ (بصيرت، ۱۳۹۳، ص ۲۳).

۴- اسلام نړيوال نظام دی: الله جل جلاله محمد صلی الله علیه وسلم ته فرمايي: (وما ارسلنک الا کافةً لناس): ژباړه: موږ ته نه يې لېږلی بلکې عام انسانيت او بشريت ته مو لېږلی يې. په اسلام کې تغير، تعديل او نسخ د منلو وړ نه دي، ځکه چې اسلام يو کامل او عالمي دين دی او د هرې زمانې سره جوړ نظام دی.

۵- اسلام يو اخلاقي نظام دی: اسلام دين هم په داخلي او هم په بهرنی کچه د اخلاقي نظام بنسټ ايښودونکی دی، لکه: پيغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي: زه د اخلاقو د معلم په حيث رالېږل شوی يم ترڅو د اخلاقو مدارج پر تاسي تمام کړم (انما بعثت لا تمم مکارم الاخلاق)، همدارنګه الله جل جلاله پيغمبر صلی الله علیه وسلم ته فرمايي: (وانک لعلی خلق عظيم) ژباړه: بيشکه ته د ډېر لوړو اخلاقو درلودونکی يې.

٦- اسلام د عدالت نظام دی: عدل د ظلم مقابل او خلاف عمل دی، امام جرجاني رح عدالت په دې ډول تعريف کړی: عدالت د افراط او تفريط تر منځ حالت ته وايي. الله جل جلاله په قرآن کريم کې فرمايي: (اعدلو اهو اقرب للتقوی) ژباړه: عدل اختيار کړئ ځکه چې دا د عدل قايمول، تقوی ته ډېر نږدې دي. الله جل جلاله په بل ځای کې فرمايي: (ان الله يآمر بالعدل و الاحسان) ژباړه: بيشکه الله جل جلاله امر کوي په عدالت او احسان سره. همدارنګه الله جل جلاله په قرآن کريم کې فرمايي(واذا حکمتم بين الناس ان تحکمو بالعدل) ژباړه: او کله مو چې فيصله کوله نو په عدالت فيصله کوئ. خدای پاک د اسلام دين له دې امله ډالی کړی، چې انسانان د کفر د جور او ظلم څخه خلاص او د اسلامي عدالت څخه يې خړوب کړي.

۷- اسلام يو سياسي نظام دی: سياست د امارت په وزن د ساس، يسوس، څخه د (قال يقول) په وزن د مصدر صيغه ده، د دې فعل مصدر (سوس، قول) په وزن هم راتلی شي، نو سياست د سوس اصلي معنی، اصلاح کول، ښايسته کول، رهبري کول، مديريت کول، قابو کول، قضاوت کول، سزاء ورکول، خلک د يوکار کولو يا نه کولو په لور رهبري کول، د خلکو د چارو اداره کول، حکومت کول، د هېواد داخلي او بهرنيو چارو تنظيمول، د هېواد قلمرو څخه دفاع، سياسي خط مشي او داسې نور دي، چې د همدې لغوي معنی پر اساس دا دواړه کلمې د سياست، حکومت او د هېواد چارو د سمبالولو پر ځای استعماليږي، ځکه چې د مشروع سياست هدف هم د افرادو او هېواد چارو د وضعې او حالت اصلاح او بهتر کول دي، ترڅو سوکاله ژوند غوره کړي. همدارنګه په قران عظيم الشان کي د سياست هم معنا لفظ حکمت

دی چي په سياسي حکمت عملي باندې يې هم اطلاق کېږي، توپير يې دومره دی چې دحکمت لفظ پراخ مفهموم لري، په قران کريم کي د ملک، مملکت او قانون ترڅنګ ځای پر ځای څو ځله د حکمت يادونه شوې. امام راغب اصفهاني (رح) حکمت داسې تعريفوي. د علم او عقل په قوت سره يوه صحيحه نتيجه پيداکول حکمت دی. د موجوده چارو علم او د ښو کارونو سرته رسول دا هماغه حکمت دی، چې په قرآن کريم کې يې يادونه شوې ده. اسلامي سياست يوفن دی، چې پر بنسټ يې اسلامي حکومت چلېږي او يوه طريقه ده، چې له مخې يې ملت د خپل بهبود او بهترۍ چارې سرته رسوي. اسلامي سياست د عدل او اعتدال تر څنګ د اسلامي قوانينو سره سم حرکت کوي او د هغه اهداف عام مظهر ته راځي چې اړيکه يې د اسلامي امت د ښېګڼې سره وي (اختيار، ۱۳۹۳، ۲۵- ۳۰).

شپږم مبحث: په اسلامي نړۍ کې د سيکولرېزم د خپرېدو مخنيوی: اسلام د يوې داسې قيمتي ملغلرې حيثيت لري چې په هر طرف خپلې زرينې وړانګې توليدوي او د علم سهار راولي، اسلام خپل نورانيت نړيوالو ته ښودلی. دا چې سيکولرېزم د اسلام سپېڅلي دين پر وړاندې مطرح کېږي، نو بايد د لويديځې نړۍ په نظر ورته ونه کتل شي؛ قرآن له نورو اديانو سره پرتله نشي، اسلام کامل او شامل دين دی، اسلام نړيوال دين دی، اسلام بشپړ توحيدي عقېده ده، مسلمانان يوازې په يو خدای ايمان لري او محمد صلى الله عليه وسلم د نړۍ لپاره د خدای بنده او رسول ګڼي، اسلام او قرآن د جهالت او ناپوهۍ سره ټکر لري. خو د بد مرغۍ ځای دا دی، چې تل زموږ فکرونه د وخت سياستونو پورې تړلي وي، په دې معنی چې د هرې مفکورې حکومت، چې د ګډۍ واګې په لاس کې واخلي موږ ورسره سم متې رانغاړلي وي او د هغوی له پاليسيو سره سم خبل قلم چلوو او ليکنې کوو، داسې فکر نه کوو، چې د قلم مانا يا نې څه ما او تا ته خدای جل جلاله د څه لپاره استعداد راکړی، کوم مسوولیتونه لرو، بويه څه وکړو او څه کول په کار دي؟ دا او دې ته ورته خواره ډېرې خبرې دي، چې ويل يې په کار دي. يعنې قرآن او اسلام ته بشپړه توجه په کار ده چې قرآن له موږ څه غواړي، اسلام ډېر لوی دين دی او د هر چا لپاره په کې د هغه له مسلک سره سم مواد شته. په قرآن کريم داسې حقيقتونه پراته دي چې ځينې کشف او ځينې لا تر اوسه نه دي کشف شوي، کوم چې کشف شوي، مسلمانان داسې فکر کوي، چې د دغه کشفياتو بانيان غير مسلمانان دي، اما که ژوره مطالعه او فکر وشي دا هر څه د قرآن له برکته دي، نننۍ پر مختللي نړۍ له خپل هر اړخيز پرمختګ سره بيا هم د قرآن کريم ارشاداتو ته پناه وړې او له لارښوونو يې په مستقيم يا غير مستقيم ډول ګټه پورته کړې، قرآن کريم يوازې يو مذهبي کتاب نه؛ بلکې د ټولو علومو په اړه په کې په وړ اندازه بحث شوی. خو له بده مرغه موږ دغه مقدس يوازې په تاخچه کې ايښی، د دم، دعا او ويرې پر وخت

کار اخلو. موږ باید د قرآن کریم په هر آیت بشپړ پوه شو، فکر پرې وکړو، باریکیو ته یې ځیر شو، ځکه چې ننني نوښتونه او اختراعګانې د قرآن کریم له برکته دي، لکه ستر څېړونکي او مشهور لامبوځن (کوسټې)، لومړنی انسان، چې پر سپوږمۍ یې پل ایښی (نیل ارمسټرانګ)، مشهور فرانسوي عالم (روجرګراډي) او ډېر نور له دې حقیقته خبر شوي او یو پر بل پسې مسلمان شوي دي. قرآن کریم له سره تر پایه یوه ستره معجزه ده، چې د دغه ستر اسماني کتاب په ځینو آیتونو کې اټوم، نیوټرون، تلوېزون، برېښنا، الوتکې او نورو ورته اختراعګانو او نوښتونو ته اشاره شوې ده. د بیلګې په ډول په هوا کې د سلیمان (ع) پرواز کول، الوتکې ته اشاره ده، له موره د ړانده اولاد بیا سترګورول، د بدن د غړو لېږدول یا بدلولو ته اشاره ده، په اور کې د ابراهیم (ع) نه سوځېدل اور ضد کالیو او اور وژونکو کسانو ته اشاره ده. الله جل جلاله له هر انسان غوښتي چې دغه معجزې ځان ته بیلګې وګرځوي او د دغو معجزو په رڼا کې نوي نوښتونه رامنځ ته کړي، ویل کیږي چې اډېسون برق او ګروپ اختراع کړ، د ده له مرګ وروسته د هغه له الماری څخه د قرآن کریم د (نور) سورت ځینې آیتونه پیدا شوي، له داسې انګېرل کیږي، چې اډېسون هم قرآني لارښوونو ته پناه وړې، همدارنګه یوسف (ع) چې د اقتصاد په برخه کې کوم رول لرلی او داسې ډېرې نورې بیلګې شته چې د قرآن مقدس کتاب له اړخه وړاندې کېدای شي، خو چې مسلمانان ورته متوجه شي. سیکولرېزم په نورو ادیانو کې نتیجه ورکړې، اما د اسلام دین لپاره هېڅ دلیل نه لري چې اسلام نیمګړی وښيي، ځکه چې اسلام کامل او شامل دین دی په دې معنی چې اسلام د نړۍ پرمختللی سیاست، اقتصاد، فرهنګ، ساینس، نظامي ځواک، هم راتلونکي ته، هم حال او هم تېر ته ځواب وایونکی دین دی، خو که اسلامي پوهان او مسلمان مشران هڅې وکړي چې د ژوند ټولو اړخونو ته د قرآن له ډګره سر ورښکاره کړي او هرې ستونزې او پرمختګ ته له قرآن ډګره ځواب ورکړي. دا چې د اسلامي نړۍ مشرانو او واکمنانو ته څه په کار دي او کوم اقدامات باید ترسره شي، ترڅو اسلامي نړۍ د سیکولرېزم نفوذ څخه وژغورل شي، په لاندې ډول ځینو مواردو ته اشاره کوو:

لومړی مطلب: اسلامي پوهان یا مشران باید پورته یاد اشتباهات چې پاپانو وکړل، تکرار نه کړي: مسلمان مشران، واکمنان او علماوو ته په کار ده چې اسلامي شریعت په سم ډول پلې کړي او باید د دین او شریعت احکامو په تطبیق کې له سختۍ او زیاتي څخه کار وا نه خلي، د خپلو ګټو لپاره یې ونه کاروي، لکه څنګه چې پورته ذکر شول مسیحیت له دې وجې ناکامۍ شو، چې پاپانو د خپلو ګټو لپاره تحریف کړ او په دې اړه قرآن کریم فرمايي: لاتغلوا من قبل واضلوا کثیرا وضلوا غن سواء السبیل. ژباړه: په دین کې تر حد تجاوز مه کوئ او د هغه قوم د هوا او هوس متابعت مه کوئ چې تر تاسو پخوا ګمراه شوي دي، نور یې هم له سمې لارې اړولي دي او دوی هم اوښتي دي. همدارنګه په دې اړه پیغمبر صلی الله علیه

وسلم فرمايي: ايا کم و الغلو في الدين فانما هلک من کان قبلکم بالغلو في الدين. ژباړه: د دين په کار کې افراط او سختي مه کوئ؛ تر تاسې د مخه قومونو په دين کې د افراط او سختی په سبب هلاک شول. د ابن مسعود رض څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم درې وارې تکرار کړل چې په دين کې تر حد متجاوز هلاکيږي. هلک المتنطعون قالها ثلاثا (ظهير، ۱۳۹۳، ص ۱۳۰).

دويم مطلب: ديني حکومتونه بايد ټولنې ته ښه حکومتوالي وړاندې کړي: که فکر وشي د تاريخ په اوږدو کې ديني حکومتونو د ژوند په چارو کې هغه اړخونو ته ښه پاملرنه نه ده کړې، چې نظامونه ننگوي، لکه سياسي، اقتصادي، فرهنگي، تعليمي، د ملي قدرت پیاوړي کول، نړیوال ستيج او داسې نور، چې په دولتدارۍ او حکومتوالۍ کې ډېر مهم اړخونه دي. حکومتونه مکلف دي او دنده لري چې د رعيت چارې په ښه ډول سمبال او تنظيم کړي، په ټولو چارو کې عدالت په ښه ډول تطبيق کړي. په دې اړه د پيغمبر صلی الله علیه وسلم حديث شريف دی چې: ژباړه: هرکس د خپلې رمې شپون دی، يعنې ددې مطلب دا دی، چې هر چا ته چې دنده سپارل کيږي، بايد د هغې دندې وړ وي، د صداقت، رښتينوالي او تقوی ترڅنگ د هغه دندې لازم مهارتونه، اصول، مسؤليتونه، مکلفيتونه او داسې نور وپېژني، چې له عهدې يې وتلی شي، کوم خدمات چې په دې بست پورې تړاو لري بايد وړاندې يې کړی شي، ترڅو له ښې حکومتوالۍ خلک ډاډمن شي او که خلک د ښې حکومتوالۍ له نعمتونو برخمن شي، زه باوري يم چې خلک به هېڅ کله هم د سيکولر افکارو تر تاثير لاندې رانشي. (شاکر، ۱۳۸۸، ص۵ - ۳۵).

درېيم مطلب: ديني علماء بايد د قرآن کريم په سياسي، اقتصادي، فرهنگي، نظامي، رهبري او داسې نورو برخو کې جدا جدا پاليسي ساز، محض او داسې نورې څېړنې ترسره کړي ترڅو د اسلامي نړۍ حکومتونو مشران په ښه حکومتوالۍ کې ترې گټه پورته کړي.

څلورم مطلب: ديني حکومتونه بايد د اخلاقي فساد يا قانوني سرغړونو مخنيوي لپاره مختلف سيستمونه رامنځ ته کړي: اخلاقي فسادونه او قانوني سرغړونې يوازې په وعظ او نصيحت له منځه نه ځي، بلکې د دغه سرغړونو لپاره ديني حکومتونه مجبور او مکلف دي، چې سيستمونه رامنځ ته کړي. په بشپړ ډول د وعظ او نصيحت رول څخه هم انکار نشو کولی، شايد څو فيصده رول ولري، اما تجربو ښودلې چې انسان د الهي فطرت له مخې ډېر څه غواړي او خپلې شخصي گټې هر وخت تعقيبوي، د بيلگې په ډول که مور محصل يا د مکتب او مدرسې شاگرد ته ووايو چې نقل کول د اسلامي شريعت له مخې ښه کار نه دی، خو محصل يا شاگرد هغه کار کوي، چې د ده په کې گټه وي، اما ننني پرمختللې نړۍ دې ورته د ژوند په ټولو برخو کې سيستمونه ايجاد کړي او د مفسدو کړنو يا د دوی د ټولنې مطابق غير اخلاقي کړنو اتيا (۸۰٪) سلنه مخنيوی يې د يادو سيستمونو پر اساس کړی. دوی د انسان الهي فطرت د نړۍ سترو

علماوو او فلسفاوو له نظره په ښه او ژور ډول مطالعه کړی او ورته معلومه شوي چې انسان فطرتاً هغه څه خوښوي چې د ده په ګټه وي. د عبدالرحمن بابا په دې بیت کې د انسان فطرت ته ښه اشاره شوي.
نصیحت په جاهلانو اثر نه کا، د سړې اوسپنې هسې ټکول دي. لهذا داسې کار باید وشي، چې نه سیخ (ځیخ) وسوزي او نه کباب.

پنځم مطلب: دیني حکومتونه باید له مختلفو علومو څخه ګټه پورته کړي او تشویق یې کړي: دا پر هر مسلمان فرض ده، چې اسلام د هرې ژبې، هرې سیمې او هر توکم لرونکو ته ورسوي او هغه علوم زده کړي چې مسلمانان پرې له سیالانو سره سیالي کولی شي، الله جل جلاله یو حقیقت ته اشاره کړي او د استعارې په بڼه فرمايي، چې قرآن بحر دی او هره ویاله ترې له خپل ظرفیت سره سمې اوبه بېلوي یعنې دا د علومو او معلوماتو یو ژور سمندر دی، چې هر څوک ترې د خپلې پوهې مسلک په کچه اخذ او برداشت کوي. یو لوی امام فرمايي: جمیع العلم فی القرآن لکن ـــ تقاصر عنه افهام الرجال. ټول علوم په قرآن کې دي، خو د خلکو د پوهې کچه ترې کمه ده. زما باور دی، چې د دې او دې ته ورته نورو لیکنو په لوستلو به (په قرآني تعبیر) هغه کفار چې زړونه یې د ړانده تعصب د ناروغۍ تورو پردو پوښلي نه وي ایمان راوړي، د نورو آسماني کتابونو د خاوندانو یقین به پیاوړی، د کمزورو مومنانو ایمانونه به پیاوړي او اهل کتاب به شک ونه کړي. د قرآن پېژندنې په برخه کې یوه مهمه موضوع د قرآني حقایقو اثباتول دي، د قرآني حقایقو د اثبات لپاره د هغو دلایلو راوړل مهم دي کوم چې بني بشر (که مسلم وي یا غیر مسلم) پرې د عقل او بصیرت په سترګو قناعت وکولی شي. هغه څه چې بني بشر پرې قناعت کولی شي هغه په مشاهداتو او محسوساتو باندې د دلایلو بیانول دي (دلیل مشهود) او (دلیل محسوس) راوړل روایت ته قوت او منطق وربښي او ترېنه انکار کول نا ممکنه کوي. کله چې دلیل او منطق په روایت کې موجود وي او بیا څوک ترینه انکار کوي، له عقل څخه منافي عمل بلل کیږي. هغه څوک چې د منطق، عقل او بصیرت خاوند وي هغه به کله هم له علمي او عیني حقایقو منکر نشي. بناً اسلامي پوهان او مشران باید د ټولو علومو مسلکیان تشویق کړي یعنې که چا صرف بهايي یا منطق ولوستل هم ثواب دی او که چا ټانګ، تکنالوژي، اداري چارې او داسې نور پیاوړي کړل هم ثواب دی، ځکه چې د ټولو ګټه مسلمانانو ته رسیږي (دوغن، ۱۳۸۷، ص ۵۵).

شپږم مطلب: اسلامي حکومتونه باید د فکري جوړونې بنسټونو ته زیاته توجه وکړي: اسلامي حکومتونو ته اړینه ده چې د هرې بدې پدیدې لپاره د علل او معلول ترمنځ اړیکې مطالعه کړي ترڅو بنیادي اصلاحاتو ته لاره هواره کړي، کله چې د هرې بدې پدیدې علل معلوم شي او له منځه ولاړ شي معلول په په خپله اصلاح کیږي (دواري، ۱۳۸۹، ص ۱۲۲).

**پایله**

د اسلامي حکومتونو مشران باید یوازې په عباراتو باندې تمرکز ونه کړي بلکې د اسلام مقدس دین ټولو اړخونو لکه سیاسي، اقتصادي، دیپلوماتیک، فرهنګي، نظامي او داسې نورو ته پاملرنه وکړي او د اسلامي تیوریکي اړخونو ترڅنګ د هغې په عملي اړخونو باندې هم ټینګار وشي. دیني حکومتونه باید له مختلفو علومو ګټه پورته کړي او تشویق یې کړي. یعنې که چا صرف بهایي یا منطق ولوستل هم ثواب دی او که چا ټانګ، تکنالوژي، اداري چارې، کیفیت لوړول او داسې نور پیاوړې کړل هم ثواب دی، چې د دې ټولو ګټه مسلمانانو ته رسیږي. کله چې غربي ټولنه له عیسویت لېرې شوه، دین او د هغه لارښوونې دوی ته بې معنی ښکاره شولې، نو هغوی هڅه وکړه چې نورې ټولنې هم له دیني او اسماني لارښوونو لېرې کړي او د دوی په منځ کې د سیکولریزم او "له سیاست څخه د دین جلا کول" ځای پر ځای کړي. د دوی دا هڅه دا هم وه چې اسلامي ټولنه له سپېڅلي او مهم جوهر څخه بې برخې کړي. دا پراخ شاتګ د ایډیالوژیکي او عقیدتي انحراف لامل شو. دغه ډول انحرافات او د اسلامي ټولنې ژور شاته تګ په اسلامي ټولنه کې د دوو بدمرغیو لامل شو: «علمي شاتګ یا انحراف» چې د اسلامي ژوند پر ټولو اړخونو یې ولکه ټینګه کړه، هغه هم په داسې وخت او زمانه کې چې اروپا د خپلې تېرې دورې د وروسته پاتې والي دورې څنډلې وې او د علمي پرمختګونو او کشفیاتو په لور یې ګام پورته کړی و او بل د اسلامي هېوادونو «مادي او معنوي کمزورتیا» چې د کفارو لپاره یې خوندوره او غوړه مړۍ جوړه کړې وه او اروپایانو ټوټه ټوټه هغوی له ستونې تېرول او څه نه وو پاتې چې پر حرمین شریفینو باندې هم تسلط او کنټرول ترلاسه کړي! نو په لنډیز سره ویلای شو چې په اسلامي نړۍ کې د سیکولریزم د راڅرګندېدو دوه مهم او بنسټیز لاملونه وو: د اسلامي ټولنې ژور انحراف (کږوالی) او بل د اسلامي ټولنې د ګمراه کولو په موخه د «عیسویانو او یهودانو ناوړه پلانونه او پروګرامونه. همدارنګه مسلمانان د خپل ژوند په ټولو اړخونو کې له ژور او هراړخیز انحراف سره مخ شول، خو هغه مهمه برخه چې دغه انحراف هغه اغېزمنه کړه، په عقیده او د الوهیت په مفهوم کې انحراف و. د غرب او شرق یرغل او د اسلامي ټولنې د سیکولر کولو په وخت کې مسلمانانو په اسلامي نړۍ کې درې ډوله حکومتونه ولیدل: په هند کې د "مغولانو" حکومت، په فارس کې د "صفویانو" حکومت او په مدیترانه کې "عثماني" حکومت. صفوي حکومت یوازې د اسلام په نوم چلېده او د حکومت کولو طریقه یې د شیعه علماوو د نظریاتو او غوښتنو پر بنسټ وه او د هغو د پاچاهانو اصلي دنده دا وه چې پر عثماني دولت یوازې د دې لپاره برید وکړي چې هغوی سنیان وو. د "سلطان اورنګزیب" د وخت نه پرته، د مغلو حکومت هم د دین او د هغه د تعلیماتو په باره کښې د کم عقلۍ او ناپوهۍ په وجه د اسلام په باره کښې د بې شمېره توهماتو او غلط

فهمۍ سره مخ وو؛ دغه ناپوهي ددې سبب شوه چې په هند کې د انګریزانو لخوا د اسلامي واکمنۍ له منځه وړلو پر وړاندې ځانګړې مقاومت وکړي. عثماني دولت هم چې د تاریخ په اوږدو کې یو له غوره اسلامي خلافتونو څخه و خو په خپل ځان کې یې دوه مهمې ستونزې لیدلې: د خلافت میراثي توب او بل د افتراضي فقهي نشتوالی او له نویو حوادثو او فقهي پېښو سره نه همغږي. د نویو مسایلو پر مخ د اجتهاد دروازه وتړل شوه او اسلامي فقه ونه شو کړای چې په هغه وخت کې د رامنځته شویو نویو او راټوکېدلو مسایلو سره یو ځای او همغږې شي او هغه حل او فصل کړي؛ له دې وجې، د سکولرانو او هغو کسانو پر مخ چې د علمانیت ادعا یې کوله او دین یې د علم او پوهې خلاف ګڼلو، د نفوذ دراوزه پرانستل شوه. همدارنګه اسلامي حکومتونو او خلافتونو د وسلو او پوځ له اړخه یوه مجهز او منظم پوځ ته اړتیا درلوده او په دې برخه کې باید د علماوو او دیني خلکو له خوا مهم لوائح او لارښوونې وړاندې شوې وای، خو علماوو او د فقهي او دین اهل او خلکو له دې مسائلو سره هیڅ تړاو نه درلود، چې دې کار په خپله د سیکولریزم د نفوذ لپاره زمینه برابره کړې وه. که څه هم دا موارد د ټولو شرعي چارو په شان ارزښت او مقام لري، خو په دې برخه کې اسلامي نړۍ له خپلو اسلامي لارښوونو ګټه پورته نه کړه.

**وړاندیزونه**

۱- ټول مسلمان پوهان، څېړونکي، محققین او داسې نور باید هرې موضوع (سیاست، اقتصاد، ساینس، تکنالوژي او داسې نورو) ته د قرآن له ډګره سر ورښکاره او د حل لار ورته پیدا کړي.

۲- د اسلام دین او قرآن پاک په برخه کې باید د اسلامي او عصري علومو پوهان څېړنې او تحقیقات زیات کړي، ترڅو له یوې خوا د خپل مقدس دین په اصلي، ریښتنې معنی او ارزښت پوهه شو او له بلې خوا به د مسلمانانو ژوند ته د قرآن له ډګره په اقتصادي، سیاسي، نظامي، ساینسي او داسې نور برخو کې پرمختګ ورکړی وي او له نورو اختیاجی به خلاص شي.

۳- په دې برخه کې چې کومې څېړنې کېږي باید د وخت په سیاستونو پورې تړلې نه وي، په دې معنی چې هره مفکوره حاکمه شي، نو څېړونکي او لیکوالان هم د همغې مفکورې له پالیسۍ سره سم قلم چلوي.

**مأخذونه**

اختیار، حجرت الله.(۱۳۹۳). د سیاستپوهنې بنسټونه، مومند خپرندویه ټولنه ننګرهار
اعظم، فاورق. (۱۳۹۱هـ ش). زموږ روشنفکران، کابل
امله وال، شیر علم. (۱۳۹۱). د سیاسي افکارو او نظریاتو تاریخ، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار
ایوبي، محمدنادر.(۱۴۲۹ هـ ق). سیاسي نظریات، اکرم پریس، لاهور
بصیرت، ع، نبي. (۱۳۹۳). د سیاسي افکارو تاریخ، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار

داوري، فرهاد. (۱۳۹۱). سیاستپوهنه، مومند خپرندویه ټولنه- ننګرهار
دوغن، شعبان. (۱۳۸۷). قرآن او تخنیک، صمیم ادبي ټولنه، کابل
زیرکیار، رحمت ربي. (۱۳۸۸). سیاسي فکرونه او سیاسي نظامونه په لویدیزه او اسلامي نړۍ کې، اکرم پرېس، پېښاور
شاکر، سید حبیب. (۱۳۸۸). فکري ستر نړیوال اسلامي خوځښتونه اغیزي او ارزونه، صمیم ادبي ټولنه، کابل
ظهیر، محمد صدیق. (۱۳۹۳). بین المللي سیاست ته یوه کتنه، صمیم ادبي ټولنه، کابل
عزام، مولوي نورالله. (۱۳۸۹). اسلام او سیاسي اندونه، اکرم پرېس، پېښاور
عثماني، محمدتقي.(۱۳۹۲). اسلام او سیاسي اندونه، د افغان بنسټ خپرنیزه او بلنیزه ځانګه، ننګرهار
ګوهررحمن، ګوهررحمن. (۱۹۸۰م). اسلام او سیاست، دارالعلوم تفهیم القرآن، مردان
نظري، محمود. (۱۳۹۰). قرآن او نننۍ ساینس، د افغان بنسټ خپرنیزه او بلنیزه ځانګه، کابل
نیازی، مصطفی.(۲۰۱۱م). اسلام او سیکولریزم، مستقبل خپرندویه ټولنه، ننګرهار

J. P. Suda, (2009), History of Political Thought Ancient & Medieval, K. Nath & Co. Meerut

U.R. Ghai, K.K. Ghai, (2010), International Politics Theory & Practice, New Academic Publishing Co. Mai Hiran Gate, Jalandhar-144008

Prof. Dr. Dieter Bender, (2012), International Economic Relations, RUHR University Bochum

Dr. S.R. Myneni, (2008), Political Science For Law Students, Allahabad Law Agency

Lakshmi Narain Agrwal, International Relations (1914 12 A.D to present day), sixth Edition 2009.

# Value of message in Communication

Assistant Prof. Assadullah Tanay, School of Communication and Public Relations, Public Relations Department
**Email:** assad.t.wj@gmail.com

## Abstract
In this article we examine the value of the message in communication. The message is not only the basis of communication, but it also facilitates the exchange of ideas and understanding between people. We will analyze different aspects of the value of the message, its effects, and its value in the light of new technologies.
The value of the message in communication refers to the information, concepts and feelings that are expressed in the message and have an important role in the process of accommodation, communication and understanding. The value of the message is not only limited to the content of the text, but also has an effect on the way it is presented, the mode of communication and the culture and experiences of the addressee. The message should be clear and in simple language, so that the addressee can understand it easily and have the information that will benefit the addressee and match their needs.
In addition to this, the important research books on the communication of today's technology permit are also considered, because the value of the message is an important topic in the science of communication, which is about the content of the message, its form and the way of receiving it. is discussing Message value is important in various fields, especially in social communication, business, and information technology.
It should be noted that the emergence of the Internet in the 20th century gave a new form to the value and concept of the message, that information is now spread at an unprecedented level and speed. Able to increase the quality of communication and give more interest to the interlocutor and make the communication process more powerful. The overall value of the message is the key points in the sincerity, clarity and effectiveness of the communication and its main purpose is that communication helps in the process of exchanging different ideas and information, and the message is